واجبي (برخې) خپلو حقدارانو ته ورکړئ، څه چې پاتې شول هغه نارینه ته يې ورکړئ چې نږدې خپل وي

له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «واجبي (برخې) خپلو حقدارانو ته ورکړئ، څه چې پاتې شول هغه نارینه ته يې ورکړئ چې نږدې خپل وي».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلی الله علیه وسلم هغو کسانو ته چې د میراث وېش سمبالوي امر کوي، چې میراث په عدالت او د شریعت سره سم ووېشي لکه څنګه چې الله تعالی غوښتلی، د فرض حق لرونکو ته باید د الله د کتاب په اساس خپلې برخې ورکړل شي، چې دوه پر دریمه، دریمه، شپږمه، نیمه، څلورمه اتمه دي، څه چې پاتې شي، هغه د مړي نږدې خپلوان نارینه ته ورکول کېږي، چې عصبه ورته ویل کېږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5887

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee